# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم*

**www.afgazad.com**　　**afgazad@gmail.com**

| سیاسی | Political |
|---|---|



درویش وردک


۱۶ اپریل ۲۰۱۵

## وزیرستان په بدخشان کی!

داسی ځرنګدیږی چی لویه لوبه نوره هم په تودیدو ده؟ اوزمونږ خوارو افغانانو غمیزی یوه په بله پسی را روانی اودسباوون ځرک یی هم نه لګیږی. البته دا به زمونږ جغرافیایی تقدیر وی، چی دنورو لپاره فتوحات کوو؟

دهیواد په شمالی ولایتونو لکه فاریاب، سرپل، مزارشریف، کندز، تخار، بغلان اوبدخشان کی لا پخوا دراتلونکی امپریالیستی جګړی لپاره سنګرونه جوړ شوی، هم په فکری توګه دسیمی دخلکو ترمنځ داعشی افکارپه پراخه پیمانه خپاره شوی اوهم ناټو ددی ستراتیژی لپاره تول چمتووالی نیولی.

دپاکستان دچترال دمدرسو، سورجومات اونوری سلګونه مدرسی دبدخشی ماشومانو څخه لا پخوا ډکی وی، او داستعمار په ۱۴ کلوکی دکرزی نه نیولی بیا ترډیرو ملکی اوپوځی چاروا‌کو ناری سوری وهلی : چی تروریستان دناټو په چورلکو کی په شمالی ولایتونو کی ځای پرځای کیږی.

همداسی وشول، دبدخشان چترال لاره په داتوله موده کی ونه ترل شوه، همدارنګه په همدی ولایتونو کی داسی سیمی په غرو او رغوکی شته چی کلونه د نیول شوی اداری له ولکی بهر اودجنګیالیو په لاس کی پرتی دی.

له بلی خوا حزب التحریر او د ازبکستان اسلامی تحریک، دجمعه نمنګانی او طاهریلداش ګرووپونه لا کلونه پخوا فعال دی. په ګواډګی کی اداره کی حزب التحریر ته همداسی شین ځراغ روښانه و، لکه دسړی جګړی په وخت کی «جماعت تبلیغی پاکستان» ته په تولو لویدیځو هیوادو کی پرته له کومو ستونزو دتبلیغ اودعوت زمینه مساعده وه.

په خاصه توګه حزب التحریر چی په ښکاره دخلافت دول ډنګوی په ښارونو کی په سل هاو مرکزونه لری، چیرته چی په زرهاوو ځوانان او پیغلی زده کړی کوی.

اوس چی دی ع او غ حکومت «عجیب » او«غریب » پړاو ته رسیدلی او درسواییو غرکه یی چاودلی، داسی نښنی نښانی دی چی پاکستانی جنرالان به نور دلته د وایسرای رول لوبوی. په دی وروستیو کی شړل شوی جاسوس ناصالح ادعا وکړه چی د آی اس آی منصبدارانو دافغانستان په جیلونو کی دزندانیانو څخه پلټنه او تحقیق کړی. نوموړی زیاده کړه چی په کونړ، ننګرهار اونورستان کی پاکستانی پوځیانو دخپل حکومت ضدطالب په ضد په عملیات کړی، چی افغان دولت ورسره هم غږی و.

په مزارشریف کی وروستی تروریستی پیښی، په بدخشان کی دسرتیرو خواشینوونکی وژنه، اوهمدا اوس (دلیکنی په وخت کی-) په بدخشان کی ۲۰۰ داردو سرتیری محاصره دی؟ او دژغورلولپاره یی هم حکومت څه نشی کولای.

داتولی هغه نښی دی چی دجګړی جغرافیه مخ په بدلیدو ده، ما په خپله یوه پخوانی لیکنه کی هم دی خبری ته اشاره کړی وه.-(ګلبدین پګړی په غاړه، دآمودسیندترغاړه).
هوکی هیوادوالو! خبره کټ مټ همداسی ده، ګلبدین هم را روان دی او دجهاد دقاید لقب به هم ورته ورکړل شی دنورو ولایتو اوامتیازاتو ترڅنګ دکندز ولایت پادشاهی به هم دده وی، هلته ورته تیاری لا پخوا روانی دی، ملاړوند یا بالګل ړوند شوی اویا هم مړشوی، څکه وروستی څل داسامه دمرګ نه وروسته دکوټی نه میرانشاه ته په لاره دکمین سره مخ شوی. نودرک یی ندی معلوم، ولی د خلیفه البغدادی لخوا په جهل اونالایقی محکوم شوی، نو ژوند اومرګ یی دواړه یودی.
دحزب التحریر ترفکری اوسیاسی لارښوونی لاندی ټولی اخوان ډلی( جمعیت، حزب ګلبدین، اونوری) اوبهرنی تروریستی ډلی له منځی آسیا ، چین اوپاکستان څخه، به دراتلونکی جګړی لوبغاړی وی اودهندوکش شمال خوا به دڅوکلونو لپاره وزیرستان وی.
په درناوی
درویش وردګ